دافغانستان د ټاکنو د څار مؤسسه
مؤسسه دیده بان انتخـــــــابات افغانســـتان
Election Watch Organization of Afghanistan

Election Watch Organization of Afghanistan (EWA)
House # 257, 3th Street on the right side, AIHRC Street, Kart eSe, Kabul
TEL: 0093-799225841
Email: ewa.afghanistan@gmail.com Web: www.ewa.org.af

**مطبوعاتي خبرپاڼه**

**دوشنبه1394/12/24**

## د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د دوهم تقنیني فرمان د صادریدو په اړه د (ایوا) لید لوری

**د افغانستان د ټاکنو د څار موسسه د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د ولسمشر ددوهم تقنیني فرمان د صادریدو هرکلی کوي. ایوا په دې باور ده، دا فرمان که څه هم د ټاکنیزو اصلاحاتو لړی بیا پیلوي، خو په دې اړه دوې عمده اندیښنې هم شتون لري. لومړی، ددې پر ځای چې دولت د غوراوي کمېټې په هکله د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیونپیشنهادي طرحو د ملاتړ پرځای، په نوي فرمان کې د خپلې خوښې وړ بدلونونه راوستي دي. د ا موضوع داسې اندیښنې رامنځته کوي چې ښایي دولت د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون په نورو طرحو کې هم لاسوهنه وکړي.**

**دوهم، د ولسمشر ددوهم فرمان پر اساس د غوراوي کم ېټې په ترکیب کې دوه کسان نور هم ورزیات شوي، چې دواړه یې ددولتي ادارو استازیتوب کوي. خو پر ځای یې د مدني ټولنو یو استازی له دغې کمېټې حذف شوی دی، چې په پایله کې د مدني ټولنو استازو په پرتله د دولت د استازو شمیر ډیر لوړ شوی دی. دې کار د کمیشنرانو د انتصاب پر پروسه د دولت د نفوذ په اړه اندیښنې نورې هم زیاتې کړې دي.**

**ددې لپاره چې د غوراوي کمېټې کار او پریکړې له لازم اعتبار و ولس له ملاتړ څخه برخمنې وي، ایوا دغې کمېټې ته د لاندنیو موادرو په پام کې نیولو وړاندیز کوي.**

- **د غوراوي کمېټه باید خپلې ټولې غونډې د رسنیو او مدني ټولنو د استازو پر مخ خلاصې وساتي ترڅو په دې ډول سره خلک ددغې کمېټې د پریکړو او کار په اړه معلومات ترلاسه او د پروسې شفافیت تامین شي.**
- **د غوراوي کمېټه باید د ګمارلو پروسې پر مهال داسې تدابیر په پام کې ونیسي چې د ټاکنېزو کمیسیونونو مسلکي وړتیاوې، بې طرفي او استقلالیت تظمین کړي.**
- **د غوراوي کمېټه باید په شرایطو د برابرو ټولو غوښتن لیک ورکونکو نومونه او ژوندلیکونه د ګمارلو په بېلابېلو پړاونو کې خپاره کړي ترڅو ولس د وړو کسانو د انتصاب له پلوه ډاډ ترلاسه کړي.**
- **د غوراوي کمېټه باید د وړو کسانو د ارزیابی معیارونه د پروسې له پیل وړاندې د ویب پاڼې له لارې خپاره کړي.**

شماره های تماس: 0706706720 --0708293045

www.ewa.org.af